Pashto

# افغانستان ته د بیرته ستنیدو او عودت پروګرام

## افغانستان ته د افغانانو دبیرته ستنیدلو او ځای په ځای کیدو په باب اطلاعات (ایرانا)

مارچ 2009

**د ایرنا پروګرام**

ناروېژی مقاماتو په ۲۰۰۶ کال کی یو دری اړخیز قرار داد له افغانی خوا او دملګرو ملتونو د عالی کمیساریو سره د افغانانو دلیژلو او دبیرته ستنیدو په هکله امضا کړ.
دافغانستان ټاکل شوی دموکراتیک دولت غوښتنه کړی تر څو افغانان و کولای شی چی خپل هیواد ته ستانه شی او دخپل هیواد دبیا رغونی او سولی دتامین په کار کی برخه واخلی.

نوموړی قرار داد د افغانانو په زور لیژلو ته هم لاره پرانیزی. دا په دی معنی ده هغو افغانانو چی د پناهندګی په هکله وروستی رد ځواب اخیستی او په خپله خوښه د بیرته ستنیدو غوښتنه نه کوی، د پولیسو په ذریعه بیرته استول کیژی.

په دی برخه کی د ملګرو ملتونو دعالی کمیساریو رول د امکاناتو د برابرولو مرسته ، او د دی امر په باب د اطمینان تر لاسه کول دی چی د افغانانو د بیرته استولو بهیر د ملګرو ملتونو د عالی کمشنری« یو ان اچ سی آر» د تجویز په اساس او د دری اړخیزی فیصلی سره سم تحقق و مومی.

د ایرانا پروګرام « اطلاعاتُ بیرته ستنیدل او هیواد ته دافغانانو دخپلی خوښی او داوطلبانه بیرته ستنیدو لاری چاری برابروی» او هغه کسان چی ژر ستنیژی، په افغانی ټولنه کی ژر ځای په ځای کیژی.
نوموړی پروګرام دکډوالو د یوه بیطرف بین المللی ټولنه « آی او ام» له خوا پر مخ بیول کیژی او د ناروېژی مقاماتو له خوا تمویلیژی.

د ایرانا پروګرام د ۲۰۰۶ کال د اپریل د میاشتی په ۲۶ پیل او ۲۰۰۹ کال د آګوست تر لسمی دوام مومی.

د دغه پروګرام هدف هغه ټول افغانان دی چی د ناروی په هیواد کی د ژوند کولو اجازه ولری یاونه لری. د دی دپاره چی هغوی وکولای شی د ایرانا دپروګرام له لاری بیرته ستانه شی، باید د کډوالو بین المللی ټولنی« آی او ام» ته خپل غوښتلیکونه وړاندی کړی.

هغه افغانان چی دوه اړخیزه قضیه «دوبلین» لری، یعنی هغه کسان چی د ناروی نه پرته یو بل هیواد ته د کډوالی غوښتنلیک ورکړی دی، او دهغوی غوښتنلیکونه په یو بل هیواد کی تر څیړنی لاندی نیول شوی وی، نه شی کولای چی په دی بروګرام کی برخه واخلی.

په افغانستان کی د مهاجرت دپاره د بین المللی ټولنی، مرستندوی اړخونه، افغانی مقامات،خصوصا د کډوالو دچارو وزارت« ام او آر آر» او همدغه شان بین المللی رضا کار ی ټولنی دی.

**د ایرانا پروګرام دغه مسایل په بر کی نیسی:**

**په ناروی کی اطلاعاتی فعالیتونه**
د مهاجرینو لپاره بین المللی ټولنه « آی او ام» د کډوالو د او سیدو دځایو نو «کمپ او موت تاک» په دننه او بهر کی اطلاعاتی فعالیتونه پرمخ بیایی.
دا اطلاعاتی فعالیتونه د افغانانو ، د مهاجرت د مسایلو په برخه کی کارکونکی، دکمپونو کارکونکی او نور هغه کسان چی د پام وړ کسانو سره اړیکی لری ، متوجه دی.

**دځانګړو معلوماتو او مشورو ورکول**
د مهاجرت بین المللی ټولنه ځانګړی معلومات او مشوری د هغه چا لپاره چی دبیرته ستنیدو بهیر څاری، اطلاعات او انفرادی مشوری ورکوی. ځانګړی اړیکی کولای شی د تیلفون له لاری، شخصی کتنی او دلیک د لیږلو او یا الکترونیکی پست « ایمیل» له لاری تر سره شی.

**روغتیایی کنترول او د واکسین تزریق**
ناروېژی مقامات هغو افغانانو ته چی خپل هیواد ته ستنیږی، یو ډول دخپلی خوښی روغتیایی کنترول وړاندی کوی. له دی کبله له ټولو درخواست ورکوونکو څخه هیله کیږی تر څو دخپل دایمی دوکتور« فاست لیګه» کوم بل دوکتور، د سیمی روغتیایی مرکز، ، دساری ناروغیو د مخنیوی دوکتور او د امکان په صورت کی د واکسین د تزریق له دفتر سره اړیکی و نیسی.
روغتیایی مقاماتو د دیفتری،ستیو کرامپه« تشنج» او دپولیو پر ضد واکسینونه توصیه کوی. هغه واکسینونه چی په عمومی توګه د دی ناروغیو پر ضد تری ګته اخیستل کیږی، په پیل کی یوازی د کوچنیانو دپاره او د ګټی اخیستلو په صورت کی لویانو ته هم د وقایوی دکتور له خوانه تجویز کیږی.
د دکډوالو دچارو بین المللی ټولنه د واکسیناسیون خرڅ ورکوی. هغه بیرته راستنیدونکی چی په کمپونو کی ژوند کوی، کولای شی دخپل دواکسیناسیون دخرڅ سند له مربوطه دوکتور او یا د امکان په صورت له روغتیایی مرکز څخه ترلاسه او اړوند کمپ ته وسپاری، تر څو نوموړی پیسی ورته بیرته ورکړل شی.
له هغو غوښتونکو څخه چی په کمونونو «ښاروالیو» کی ژوند کوی، غوښتنه کیږی تر څو خپل رسیدونه په عین شکل وساتی. نوموړی پیسی د کډوالو هغه سیمه ییز دفتر ته په کوم کی چی غوښتونکی ژوند کوی، لیږل کیږی.

**د سفر تنظیم او درسیدو په وخت د مرستی ورکول**
د کډوالو د چارو بین المللی ټولنه په عملی توګه دمسافرت د اړوندو چارو او دهغو د آمادګی دپاره مرسته کوی. داسازمان له ناروی څخه تر وروستی هدفه پوری د مسافرت خرڅ ورکوی.
بیرته ستنیدونکی افغانان دروغتیایی معایناتو لاندی نیول کیږی. همدغه راز هغوی ته د امنیت او د مرستندویه ټولنو، په باب لازم اطلاعات او افغانستان ته د رسیدو په وخت دماینونو په باب باخبری ورکول کیږی.
دکډوالو دچارو بین المللی ټولنه « آی او ام» د بیرته ستنیدونکو افغانانو د هرکلی او بیرته ځای په ځای کیدلو چاری او په هغه صورت کی چی فوری استوګنځی موجود نه وی، تر دوو هفتو پوری د کوم بل ځای بندوبست کوی.

**د رسیدو څخه وروسته دډیرو معلوماتو او مشورو ورکول**
د کډوالو دچارو لپاره بین المللی ټولنه نور ډیر معلومات او لازمی مشوری وروسته تر رسیدلو دبیرته ستنیدونکو په اختیار کی ورکوی. د دغو معلوماتو بنسټ دبیرته ځای په ځای کیدلو دپروګرام ثبت شوو

دغه مرستی هغه افغانانو ته چی په اجباری ډول دپولیسو  په ذریعه له ناروی څخه ایستل کیږی او افغانستان ته لیږل کیږی، هم صورت مومی.

**د بیرته ستنیدو لپاره مرسته**

هغه کسان چی بی له  رسمی اجازی  په ناروی کی ژوند کوی او  غواړی چی په خپله خوښه د دی پروګرام نه په ګټه اخیستلو سره هیواد ته ستانه شی، هریو ۱۰۰۰۰ نارویژی کرون لاس ته راوړلای شی. نوموړی پیسی په دوو پلونو کی ورکول کیږی:

۵۰۰۰ کرونه افغانستان ته درسیدو په وخت او  ۵۰۰۰ کرونه دوه میاشتی له رسیدونه وروسته.

سربیره په دی نوموړی پروګرام د بیاځای په ځای کیدو د ۲۵۰۰۰ کرونه په ارزښت دهر وګړی پالنه کوی. دغه پیسی په مجموعی توګه ۳۵۰۰۰ کرونو ته رسیږی.

هغه خلک چی په ناروی کی د استوګنی اجازه لری او  غواړی چی افغانستان ته ستانه شی، هر یوه ته ۱۵۰۰۰ کرونه ورکول کیږی. نوموړی پیسی په ناروی کی د کډوالو د اداری « یو دی آی»  له خوا هغوی ته ورکول کیږی.

سر بیره پردی نوموړی پروګرام د ۲۵۰۰۰ کرونو په ارزښت، دهر ستنیدونکی پالنه کوی.  او دغه پیسی په مجموعی توګه ۴۰۰۰۰ کرونو ته رسیږی.

هغه افغانان چی په اجباری ډول د پولیسو له خوا اخراج او لیږل کیږی، کولای شی چی هریو یوازی ۳۰۰۰ کرونه، په نقدی ډول، افغانستان ته له رسیدو وروسته تر لاسه کړی. په همدی ډول دا پروګرام د ۱۰۰۰۰ کرونو په ارزښت د هر وګړی دپالنی او ځای په ځای کیدو لپاره په نظر کی نیولی دی. دا پیسی په مجمو عی توګه ۱۳۰۰۰ کرونو ته زیاتیږی.

**د بیرته ځای په ځای کیدلو پالنه**

د بیرته ځای په ځای کیدلو پالنه کولای شی کاری پروګرامونه، دمالی مرستو سره د زده کړی پروګرامونه،  جیب خرڅ د معاش تر ورکولو پوری، د سوداګری، حرفوی او تحصیلی چارو ترجوړولو پالنه وکړی.

د ایرانا پروګرام د مختلفو دورو کورسونه  او تمریناتی طرحو جوړول دی. دغه کورسونه له دری نه تر شپږو میاشتو پوری وخت نیسی او په افغانستان کی جوړیږی. له دی کورسونو څخه هغه افغانان چی له ناروی څخه د پولیسو په ذریعه په اجباری توګه ایستل کیږی، هم  ګټه اخیستلای شی.

**د « نواس » له خوا دعدلی مشورو ورکول**

د ناروی د پناه غوښتونکو تولنه

« نواس » یو ه غیر دولتی ټولنه ده  چی پناه غوښتنکو ته دهغو  د غوښتنلیکونو په باب لازمی مشوری ورکوی.

« نواس » کولای شی دی مسلی سره مرسته وکړی چی آیا د غوښتنلیک د بیا کتنی دپاره کوم دلیل موجود دی که نه.  په هغه صورت کی چی دلیل موجود وی، نواس کولای شی  دنوی غوښتنلیک په لیکلو کی د پخوانی فیصلی د بیا غور د پاره مرسته کړی.

غوښتونکی کو لای شی چی دنواس سره د تلیفون: « ۲۲۳۶۵۶۶۰» فاکس: «۲۲۳۶۵۶۶۱» یا الکترونیکی پست:

noas@noas.org
یا لاندنی انترنیتی پانه:
www.noas.org سره اړیکی و نیسی.

**د اضافی مالیی بیرته ورکول**
هغه کسان چی په ناروی کی له ۱۸۳ ورځو څخه لژ اوسیدلی وی، کولای شی پخوا له بیرته ستنیدو د مالیی د دفتر « لکننگز کونتور» سره اړیکی ونیسی او دهغو پیسو چی د اضافی مالیی په ډول یی ورکړی دی، دبیرته اخیستلو غوښتنه وکړی.
او هغه څوک چی په یو ۱۲ میاشتنی دوره کی له ۱۸۳ ورځو څخه زیات او یا دیوی ۳۶ میاشتنی دوره کی د ۲۷۰ ورځیو څخه زیات په ناروی کی استوګنه کړی وی، د مالیی له مخی دناروی استوګن شمیرل کیږی او باید خپل مالیی حساب په خپل ټاکلی وخت، پخوا له دی چی خپل هیواد ته ستون شی، نوموړی دفتر ته ولیږی. زمونږ مشوره دا ده، هغه څوک چی خپل هیواد ته ستنیږی، باید دبیرته تګ د آماده ګیو په توګه، دخپل د استوګنی ځای د مالیاتی دفتر سره اړیکی ونیسی.
که چیری بیرته ستنیدونکی فکرکوی چی دمالیی دبیرته ورکولو مستحق دی، مګر دا کار پخوا له دی چی نوموړی د ناروی څخه بهر شی، نه دی عملی شوی، دی کولای شی چی په دی هکله دلازمو معلوماتو د لاس ته راوړلو لپاره په کابل کی دناروی له سفارت سره اړیکی ونیسی.

**دتړلو دمهلت معنی**
هغه چا چی دپناهنده ګی د غوښتلو په هکله آخرین رد ځواب ترلاسه کړی وی، د نوموړی فیصلی د تطبیق په منظور دبیرته ستنیدو، یو مهلت درلودلای شی. نو په دی ډول که چیری دغه اشخاص په خپله خوښه له هیواد څخه ولاړ نه شی، او یا دخپلی خوښی بیرته ستندو په هکله مرسته ونکړی، دا په دی معنی ده چی نوموړی شخص په هر وخت کی چی لازم وی او یا کله چی مهلت یی سر ته ورسیژی، کیدای شی چی، د پولیسو له خوا، په اجباری ډول له ناروی څخه خارج او ولیږل شی.
د یو چا اجباری لیږل په دی معنی دی چی نوموړی شخص ته دتګ د تیاری اخستلو وخت نه ورکول کیژی، او نوموړی شخص دسفر د مصارفو په اندازه د ناروی د دولت پوروړی بلل کیژی.
د دی ډول اشخاصو په هکله د اخراج یو ډول فیصله هم صادریژی چی د هغی په اساس نوموړی شخص «شنګن» ملکونو ته له ۳ نه تر ۵ کلونو پوری د داخلیدو حق له لاسه ورکوی.

**د غوښتنلیک د ورکولو څرنګوالی**
تاسی کولای شی د خپلی خوښی د بیرته ستنیدو غوښتنلیکونه د مهاجرت بین المللی ټولنی « آی او ام» ته چی په اسلو کی ده، ولیژی. د زیاتو معلوماتو لپاره ددغو مراجعو سره اړیکی و نیسی.
د « آی او ام» د تلفن شمیره: ۲۳۱۰۵۳۲۰ / او یا په لاندنی انترنتی آدرس: www.iom.no

دخپلی خوښی د بیرته ستنیدو غوښتنلیک د « آ او ام» سیمه ییزی اداری ته ولیژی.